# چوپتيا خشونت دی

# په افغانستان کې د ښځو پر حقونو

# تيري ته خاتمه ورکړئ




© IRIN

UNAMA

OHCHR

**جولاې 8 2009 ,کابل افغانستان**

## اجرایي لنډیز

افغانستان د خپل شتمن تاریخ، کلتور، ادبیاتو، هنر او ښایسته منظرو له امله پراخ نوم لري او خلک یې ډیر خوښوي. خو افغانستان له دې امله هم نوم لري چې زیات شمیر افغانان مري، یا په ډیرو بدو شرایطو کې ژوند کوي، ځکه چې تاوتریخوالی د دې خلکو د ورځنی ژوند حقیقت دی. دا ډول تاوتریخوالی که څه هم په ښکاره د منلو وړ نه دی، خو نه هم دغه ټولنې له خوا او نه هم د دولتي موسسو له خوا تقبیح کیږي او یا ننګول کیږي. دا په اصل کی یوازې د بشري حقونو فعالین دي چې د تاوتریرخوالی موضوع راپورته کوي او خاصتاً د تاوتریخوالی اغیزې او تصنیف په افغانستان کې په نجونو او ښځو باندې د پام وړ دي. دغه یوازې یو شمیر برخه وال دي چې د معافیت د کلتور د خشونت له کلتور سره لاس او ګریوان دي، چې د تاوتریخوالی یوه کړی دا ایجادوی دیموکراسي او د قانون د حاکمیت پروسي یې ته زیان رسوی او د ټولو هغو هڅو په لار کې خنډ دي چې بشري حقونو ته د احترام یو چاپیریال جوړوي.

تاوتریخوالی په ټول افغانستان کې مسلط دی. د هیواد په بیلا بیلو برخو کې بیل شکلونه لري. د ښځو په وړاندې تاوتریخوالی ډیر متداول دی او ډیرې ژورې ریښې لري او هم ډیر شدید دی. تاوتریخوالی چې د یوې زیاتي برخې افغان ښځو او نجونو ژوند یې بې خونده کړې په افغاني کلتور، عادتونو، روشونو، او عملونو کې هم ریښې اخلی. افغان ښځې محدوده ازادي لري چې له هغو نورمونو او دودونو څخه و وځي چې د ښځو لپاره د لاس لاندې موقف حکم کوي. ښځې په افغانستان کې دغه راز د هغه خشونت څخه چې د وسله وال جنګ څخه زیږنده دی ځوریږی او په وورستیو کلونو کې یې شدت موندلی چې زیات ملکي کسان په کې تلف کیږی. خشونت د ده په شدید شکل کې د عمومي لاقانونیت او د جنایتونو په خپریدو سره احساس کیږي. د دې تاوتریرخوالی ټول شکلونه د معافیت له کلتور سره ډیرې ژورې اړیکې لري، چې دغه تر یوې اندازې د لسیزو په اوږدو کې د جنګ او د عدالت د اجنډا سره د بې علاقه ګی نتیجه ده چې له پخوانیو جګړو څخه راوځي او په عین وخت کې د تیری مودې لاندې خط کښ کړي.

دغه راپور د دې هڅه کوي چې ځینې مسالې بیرته په اجنډا کې شاملې کړي چې د ښځو د ټولو بشري حقونو له تطبیق سره تړاو لري خو په زیاتیدونکي ډول له پامه لویدلې دي. هغه ستونزې چې په دې راپور کې په ګوته شوې دي لا زیات عامه بحث او مشاجرې غوښتنه لری ترڅو د قانون، پالیسي او د پوهاوی لوړتیا مناسب اقدامات ترتیب شی. اړوند اقداماتو په دې راپور کې د یوناما د بشري حقونو څانګې په لاندنیو دوو مهممو مسالو باندې متمرکز کړی دی.

الف) تاوتریخوالی چې په عامه ژوند کې د ښځو د ګډون مانع ګرځي او

ب) جنسي تاوتریخوالی د زبر زنا په چوکاټ کې

دغه مسالي د خشونت هغه شکلونه دي چي افغانان ورسره مخ دي. دغه مسالي دموجوده اجتماعي-سياسي کلتور په چوکاټ کي کتل کيږي چيرې چي د ښځو حقونه د خاصو مسالو او ذاتي ګټو د پرمختګ لپاره د تبادلي په ډول عرضه کيږي. دغه راپور دغه راز دا خبره تر ازموينې لاندني چي څنګه مذهبي او سياسي محافظه کار قوتونه د ښځو د حقونو په محدودولو کي خپل نقش لوبوي. د شيعه مذهبو د شخصي احوالو قانون په سر مشاجرې دغه دواړه ستونزې په ډاګه کوي.

موندني څرګندوي چي افغان ښځی د يو زياتيدونکی غير مسؤول چاپيريال سره مخامخ شوی دی. ښځي چي په عامه ژوند کي ګډون کوي له تهديدونو، ځورونو او حملو سره مخامخ کيږي. په ډيرو افراطي قضيو کي ښځي د دې لپاره وژل شوي دي چي داسي وظيفي يي درلودې چي د دود دستور له مخي د منلو وړ نه شميرل کيدې او يا "غير اسلامي" بلل شوي دي. د هرې ملالي کاکړی او ستاره اڅکزئ لپاره چي ووژل شوې او مرګ يي د خبرونو په سر کي راغلي ډيرې نورې داسي ښځي هم شته چي تيلفوني تهديدونه ورته راځي او ددې امر ورکوي چي کارونه پريږدي او يا اولادو ته د زيان ورسولو ګواښونه کوی. دغه راز ښځي تهديدوونکی شب نامي هم تر لاسه کوي او په جسماني او لفظي ډول بده رويه ورسره کيږي، په نتيجه کي ښځي مجبوريږي چي په خپلو ځانونو سانسور ولګوي، خپل تګ راتګ را محدود کړي او يا کارونه ترک کړي. تهديدوني او د ببرونو او حملو بيلا بيل شکلونه په جسماني او رواني لحاظ ډير زيانمن دی. سر بيره پر دی چي ښځی په مستقيم ډول تهديديږي، دا ډول خشونت او تاوتريخوالی ددې سبب ګرځي چي نورې ښځي هم په سياسي او انکشافي پروسو کي له ګډون څخه منع کړي. په ښځو ژورنالستانو باندې حملي د هغو معلوماتو مخنيو کوي چي يوازې ښځي هغو ته لاس رسي درلودای شي. په ښوونکو او روغتيايي کارمندانو باندې حملي کول افغانان نه پريږدي چي تعليم او روغتيايي پاملرني ته لاس رسي ولري.

په عامه ژوند کي د بوختو ښځو په وړاندې د حملو دغه شکلونه ټولو نورو ښځو ته دا پيغام استوي چي په کورونو کي پاتي شي. د دې کار پايلي د افغانستان د بدلون او د افغان چارواکو او د دوي د نړيوال ملاتړ له خوا د څرګنده شويو لومړيتوبو لپاره ډيرې څرګندې دي. که د اقتصادي او اجتماعي پرمختګ يو مثال راواخلو په داسي هيواد کي چي ۴۲ په سلو کي خلک يي په مطلقه نيستي کي ژوند کوي، دا به ممکن نه وي چي مهم پرمختګ وشي که چيرې د نفوسو نيمايي برخي ته د دې اجازه ور نه کړو چي په ملي يا محلي سطحه په دې پروسه کي ګډون وکړي. د ټولټاکنو په موده کي په کورونو کي د ښځو بنديانول نورې انديښني هم را پيدا کوي. ځينو ښځينه پارلماني وکيلانو د ا خبره هم کړې ده چي که امنيتي وضعه ښه نه شي دوی نه شي کولای چي د ۲۰۱۰ کال د ولسي جرګي په ټاکنو کي ودريږي. دغه يو واضح انديښنه ده په داسي يوه چاپيريال کي لکه په افغانستان کي چي د تيرېدو په حال کي دی او ډير نا ارامه ده.

د جبر د زنا پر مسألی د یوناما څیړنو وموندله چې که څه هم راپورونه د هغې په باب نشته او پټ ساتل کیږي خو دغه بدغونی جنایت د هیواد په ټولو برخو کې هره ورځ پیښیږي دا د بشر د حقوقو یوه ژوره ستونزه ده. ښځې او نجونې په خپلو کورونو، ټولنو، توقیف ځایونو کې د جنسي خشونت او تیرې تر خطر لاندې دي او د دوديزو ناوړو عملونو په نتیجه کی چې د کورنيو او ټولنو په منځ کې د دښمنیو د ختمولو په موخه تر سره کیږي. په ځینو برخو کې جنسي تجاوز کوونکی له قدرتمندو قوماندانانو، د غیر قانوني وسله والو ډلو یا جنایت کاره باندونو یا له با نفوذه اشخاصو سره اړیکې لري او د دوي د نفوذ او اعبتار له امله د هغوي له نیولو او توقیف څخه ساتنه کوی. د یوناما د بشري حقونو څانگې د مثال په ډول په شمالي برخو کې دا وموندل چې په ۳۹ فیصده قضیو کې چې تحلیل شوي دي جنایت کاران په مستقیم ډول له قدرتمندو کسانو سره تړاو درلود، چې په عملي ډول د قانون اطاعت نه کوي او نه نیول کیږي او نه په اجتماعي ډول محکوم کیدای شي.

د "عزت" مسأله یو اجتماعي- کلتوري نورم دی چې د جنسي تیری او هغو هڅو سره تړاو لري چې له دې دود سره مقابله کوي. د مجرم په ځای د جنسي تیری قرباني د شرم احساس کوي. قربانیان معمولاً د زنا (له ودني ژوند څخه بهر جنسي رابطه) په جرم تر تعقیب لاندې نیول کیږي او عدالت ته لاس رسي نه لري. دغه ستونزه نوره هم سخته کیږي کله چې د جنسی تیری قربانیان د ټولنی له خوا په ټول ژوند کې د ټولني له پیغور او بدنامي سره مخامخ کوی. له دې نه علاوه ټولنه ښايي جنسي تيری د ناوړه دودونو په ذریعه لکه بد "د مخالفتونو او دښمنیو په رفع کولو کې د ځوانو نجونو د ورکولو عمل" او یا په دې باندې زور اچول چې د تیری قرباني باید له مجرم سره واده وکړي، له جرم څخه سترگې پټې کړي. د افغانستان حکومت او ټولنه باید په جدي ډول دغه ضرورت وپیژني چې د جنسي تیری په وړاندې روشونه او برخورد تر پوښتني لاندې ونیسي ځکه چې د ډیرو ښځو ژوند یې له ستونزو سره مخامخ کړی دی او د یوه جرم به حیث ددې عمل گڼون په نورو جرمونو کې چې د ډیرو قربانیانو ژوند یی برباد کړی دی.

د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالی ډیرې پیښې د هغو هیلو او ژمنو په اړه پوښتنه را پیدا کوي چې افغاني ټولني د طالبانو د رژیم له ړنگیدو سره څرگندې کړې دي. یو مرکزي پیغام لږ تر لږه په تبلیغاتي کچه په دې وخت کې دا و چې د ښځو د حقونو تطبیق کول د ډیر وخت راهیسي ځنډول شوی دي. د بن د تړون له لاسلیک کیدو وروسته (۲۰۰۱ ډسمبر) یوه مهمه مرکزي مساله دا هم وه چې په سیاسي ډیالوگ کې د ښځو گډون او نقش ته ډیر اهمیت ورکول شی څو یوه دوامداره او مانا لرونکې سوله رامنځ ته شي.

اوسنی واقعیت دا دی چی ګڼ شمیر ښځی پخپل ژوند کی د خشونت سره مخ دی. ښځی د خپلو ډیرو بنسټیزو حقونو څخه محرومی دي او دا چی د هغو جرمونو په مقابل کی چی د دوي په وړاندی تر سره شوي دي د عدالت غوښتنی په لاره کی د لا زیاتو تیریو سره مخ کیږی. د هغو هیلو باوجود چی نږدی آته کلونه وړاندی موجود ې وی، د افغانو میرمنو حقونه او امیدونه او دا چی نارینه د دوي د ملاتړو په توګه وی ، تر زیاته حده پوری نه دی پوره شوی. د افغانو میرمنو اکثریت د بشری حقونو د ډیری زیاتی ستونزی سره مخ دي ، د هغوی لپاره بشری حقونه د هغو ارزښتونو، معیارونو او استحقاقونو په توګه دي چی یواځې په تیوری کی شته او دا چی ځینی وختونه حتی د کاغذ پرمخ هم نه و.

د افغانستان دولت د مدنی ټولنې او نورو شریکانو سره په همکاری کی باید داسی مشرتوب او تعهد برابر کړي چی وکړای شی د ښځو په وړاندی د خشونت مخنیوي وکړي. دولت باید خپل مسوولیت د هغو کسانو د عدلي تعقیب او حساب ته د راوستلو په لاره کی پوره کړی، څوک چی ښځو او نجونو ته زیان رسوي. دولت همدارنګه باید خپله ژمنه د معافیت د ستونزې د حل په لاره کی پوره کړی او دا باوري کړ ي چی ښځې عدالت ته رسیدنه ولري.

**دهغه څېرکی لنډیز چی د هغو ښځو په وړاندې د ګواښونو او بریدونو یادونه کوي چی په عامه ژوند کی ګډون لري**

په عامه ژوند کی د ښځو په وړاندي تیری دا جوتوي چی د ښځو جدي نقش د پریکړو نیولو په دموکراتیکه پروسه کې، اقتصادي او ټولنیزه پراختیا کې ، همدارنګه د سولې د ټیکاو په هلو ځلو کی په بشپړه توګه نه دي منل شوي او د افغاني ټولنې او د سیاست د سردارانو لخوا ورته ارزښت نه دی قایل شوی.

دواړه نارینه او ښځی د دې څیړنی لپاره مرکه ورسره وشول دا څرګندوي چي سیاسی فضاء د هغو ښځو لپاره چي غواړي د خپلو حقونو لپاره مبارزه وکړي لا زیاته تنګه شوې ده.
رپوټونه دا جوتوی چی هغه ښځې چې په عامه ژوند کې برخه لري ډارول شوي ، تر ګواښ لاندې راغلي، برید پرې شوی او یا حتی وژل شوي دي. په ډارونو کې نیغ په نیغه ژبنی تیری ، ټیلیفوني اړیکي، د شپې پاڼي او د ناوړه ارادو ډک شایعات شامل دي. دهغو کسانو ډیری چی ورسره مرکې شوي دي د خپل ځان او د خپلو خپلوانو د مصونیت ویره لري.

د مختلفو مسلکونو او ډګرونو ښځې ددغه ډول ګواښونو او تهدیدونو سره مخ دي لکه ښځینه پارلماني غړې ، د ولایتی شوراګانو غړې ، د مسلکي خدماتو کارکوونکي ، ژورنالستان ، هغه ښځې چې د

نړیوالو موسسو لپاره کارکوي ( د ملګرو ملتونو په شمول) او همدارنګه هغوي چي په (غیر اخلاقی، حرفو ) کی بوختی دي. په عاملانو کي دولتي ضد عناصر ، محلي عنعنوي او مذهبي ځواک درلودونکي ، د ښځو خپلي کورنۍ او ټولني او په ځینو حالاتو کي دولتي چارواکي شامل دي.

د تهدیدونو او یا بریدونو مشخص لاملونه په بیلا بیلو حالاتو کی مشخص کول ستونزمن کار دی: آیا یوه میرمن ددی لپاره د هدف د لاندي راغلي ده چي هغه د کور د باندي کار کوي؟ دا چی هغه په خپله ټولنه یو ځرګند رول لوبوی لکه انتخابی مامورین دا چی هغه یو خاص مسلک لری لکه یو مدنی کارکوونکی. دا چي هغه د ښځو د حقونو د انکشاف لپاره کار کوي؟ دا چی هغه د ټولني او نارینه وو چلند په تیره بیا د ښځو په وړاندي تر پوښتني لاندي راولي؟ ځکه چي هغه نورې ښځي ځواکمنوي څو چی هغوي خپل حقونه وغواړي؟

د جنسیت د نقشونو په اړه عنعنوی مفکورې چي اکثره وخت د مذهبي اختیاري احضارولو د احکامو له مخي صورت نیسي چي په کي په محافظه کارانه توګه تعبیر کول او ډیری وختونه غلط تعبیر او تشریحات د اسلام په اړه شامل دي چي د ټولني د مذهبي مشرانو له خوا صورت نیسي او کیدلای شي چي په ټولنیز ژواندانه کي د ښځو د ګډون په اړه دا یوله شاملو عواملو څخه وي.

د معافیت سره ، د دولت له خوا د پوره محافظت د نشتوالی له امله دغه میرمني د خطر سره مخ دی. د ګواښونو او بریدونو هغه انفرادي رپوټونو ته د غبرګونونو نشتوالی چی ورته د ګواښونو او بریدونو د قانون انفاذ او عدلی مقاماتو له خوا توجه نه کیږی، او دا چي هغه غیر اغیزمن، بي صلاحیته ، غیر کاري او په فساد کی ککړ دي. د دې سربیره دغه موسسې اکثره وخت د کارپوهو کارکوونکو او د زیرمو د کمښت سره مخ دي ، په داسي حال کی چی د قضیو او دوسیو د محرمیت او رازداری په اړه بنسټیزه خبرتیا باوری نه ده. ډیرې میرمني ددې څخه ډډه کوی چي د تهدیدونو په اړه رپوټ ورکړي څو چی د لا زیات ګواښ سره د لوړ مقام څخه مخامخ نه شي.

په نتیجه کې ډیرې میرمني د خپل ځاني محافظوي تدبیرونو څخه کار اخلي چی په دې توګه د هغو خطرونو او ګواښونو کچه ټیټه کړي لکه د عوامو ترمنځ د هغو ښکاره کیدنه ، د خوځښت محدویتونه ، پخپل ځان پابندی او بندیزونه او یا هم د کار متوقف کول. ددې علاوه ځیني میرمني کیدلای شي چي په کورنۍ کی د ملاتړ څخه برخمنی وي او یا هم تر یوه حده پورې د خپلي کورنۍ د نفوذ او قدرت په نتیجه کې نورې یې داسی مسلکونه غوره کوي چی زیاتره د ښځو لپاره مناسب وي لکه هغه چې د روغتیا او معارف په برخو کي دي چیرته چي میرمني د نارینه وو سره د کار په ډګر کي لږ تماس لري.

د ښځو په وړاندې د تهديدونو غير مستقيمي اغيزې ډېرې ژورې او زياتې دي ، په داسې کارونو او مسلکونو کې د ښځينه کارکوونکو د شموليت نشتوالی لکه د سياسي او بشري حقونو ډګرونه ددې لامل ګرځي چې د جندر او جنسيت مسلې په پوره او لازمه توګه د پاليسي جوړوني او يا هم د پريکړې کولو په پروسه کې په پام کې ونه نيولې شي. خپل ځاني بنديزونه په رسنيو کې ددی سبب ګرځی چې د جنسيت د اړوندو مسلو په برخه کې د عوامو خبرتيا محدوده شي. په انفرادي ډول ښځې محدوده توانمندي لري څو په هغو پريکړو کی ګډون ولري چې د دوي او د دوي د کورنيو ژوند اغيزمن کوي ، او يا هم دا چې بنسټيزو عامه خدمتونو ته لکه معارف او روغتيايي پاملرنی ته برابره رسيدنه ولري. د بيلګې په توګه دروغتيايي پاملرنې د کارکوونکو نشتوالی يو له هغو شاملو عواملو څخه دي چې په کليوالو سيمو کې د مور د مړينې لامل ګرځي.

**دښځو سره د جنسی خشونت د څېرکی لنډيز: جنسی تيری**

دبشري حقونو څخه د سرغړونې د تيريو د ښځينه قربانيانو په اړه واقعيت دا دی چې دولتي اداری په دی برخه کې پاتې راغلي دي. هيڅ يوه مسله دا تر دې ډيره نه واضح کوی لکه چی د جنسي خشونت او په مشخص ډول د جنسي تيري مسله ده. لومړني راپول شوې شميرې د جوتوي چې جنسي خشونت او د جنسي تيري نور ډولونه په افغانستان کې په پراخه پيمانه پيښيږي او د هيواد ټولې برخې ، ټولې ټولنې او ټولې ټولنيزې ډلې اغيزمنوي. د دې ستونزې پراختيا معلومه نه ده ، د موثقه او هر اړخيزو معلوماتو د نشتوالی ، ټولنيزو بنديزونو او د رپوټونو کموالی چی د شکايتونو د ثبت او د ملاتړ د لاس ته راوړلو لارې په کې څرګندې نه دي دغه حالت رامينځته کړی دی.

د دې سربيره لکه چې افغاني ټولنه انګيري چې ښځې بايد د فرهنګ ساتندويه او د کورنی (ناموس) مسوولې وي، جنسي تيری د ښځی د کورنی او ټولنې لپاره (بی ناموسي) ګڼل کيږي. دا اکثره وخت ددې لامل کيږي چې ښځې ډيرې د خشونت ډکې پيښې پټې وساتي.

ښځې په خپل کور او ټولنو کې ، په کوڅوکې کار او ښوونځي ته د تګ په وخت کې د ګواښ او خطر د لاندې دي. نور خطري عواملو کې د ځوانی عمر ، په تير وخت کې د جنسي تيری سره مخ کيدل او هغه ښځې چې ورسره محرم ملګری شوی نه وی لکه کونډې ، طلاق شوې ميرمنې او هغه ميرمنې چې ميړونه يې د هيواد څخه د باندې دي. همداشان ، نجونې چې د کورونو څخه تښتيدلې دي چې په کې په جبری توګه واده شوې ښځې شاملې دي هم تر خطر لاندې دي.

دقضیو مطالعه دا جوتوي چې ډیر عاملان د کورنۍ نږدې غړي دي او یا هم هغوي دي چې په یو ډول د قربانیانو سره آشنا دي. ګڼ شمیر د محارمو سره د زناء کیسونه د مثال په ډول د پلرونو او یا هم د نورو نږدې نارینه وو خپلوانو له خوا د قربانیانو سره تر سره شوي دي. د جنسي تیري په عاملینو کې همدارنګه هغه کسان هم شامل دي چې ورباندې د ښځو او ماشومانو د محافظانو او ساتونکو اعتبار شوی دی لکه د جیلونو ، د دارالتادیبونو د پولیس دمرکزونو او یتیم خانو کارمندان، محلي چارواکي، قدرت لرونکي قومندانان، د غیر قانوني ډلو غړي او یا هم د جنایت کارو ډلو غړي، دا هغه کسان دي چې د جنسي تیري کوونکو په ډله کې دي ځکه چې کولای شي د غیر رسمي قدرت په برخه کې د اړیکو د لارې کولای شي د عدلي تعقیب څخه ځان وژغوري.

داسي رپوټونه شته چې د جنسي تیری یو لامل به هغه تربګنی هم وي چې د کورنیو او ټولنو تر منځ موجودې دي. په دغسي حالت کې جنسي تیری د تېر جنایت د غچ اخیستنې په موخه چې په هغه کې د تېری کوونکی کورنۍ او یا خیل عزت ته زیان رسیدلی وي ، تر سره کېږي چې اکثر د ورته تیریو یوه دوامداره کړۍ جوړوي.

هغه قربانیان چې د بې شمېرو خنډونو ،ټولنیزو تابو ګانو څخه په تېریدو وروسته کولای شي چې ترسره شوی تیري په اړه رپوټ ورکړي، اکثره د کافی ملاتړ د لاسته راوړلو لپاره ډېرو ننګونو سره مخامخ کېږي. حکومتي چارواکي نه هغه توان لري او نه هم د اړتیا وړ اراده ورسره شته چې قرباني سره د صحي پاملرنې، رواني مشوره ورکوني، د حقوقي جبران خسارت په برخه کې ملاتړ وکړي. یوازې په ډېرو محدود قضایاوو کې دولتي بنسټونو وکولای شول چې مناسب اقدام وکړي. اکثر شاکیان د شکایت کولو نه په دې دلیل دلسرده کېږي چې که چېری دوي کوم حقوقي اقدام وکړي، ددې امکان شته چې دوي نور هم قرباني او زیانمن شي، لکه چې د زنا تور ورباندې ولګول شي. پر دې سربېره چارواکی بالخصوص پولیس دا اندیښنه څرګندوي چې دوی سره د تحقیقاتو کولو پوره ظرفیت په شمول د ښځینه کارمندانو او د عدلي طب متخصصینو په کافي اندازه نشته چې د جنسي تیریو پورې اړوند قضایاوو کې تحقیقات وکړي.

د جنسي تیري په هکله د افغانستان د جزا د قانون په احکامو کې د نه وضاحت له امله افغان قضایي بنسټونه نه پوهېږي چې څرنګه يې تطبیق کړي، چې په دې توګه د معافیت مشکل لا پیچلی کېږي. د افغانستان د کل ۱۹۷۶ د جزا په قانون کې کوم داسې صریح حکم نشته چې جنسي تیری په صریحه توګه جرم وګڼي. د اجباري جنسي تېري په پېښو کې د قانون پلي کوونکي او قضایي چارواکي په پراخه پیمانه موضوع زنا ته راجع کوي. خو په زنا کې د رضایت موضوع باندې کافی بحث نه کېږي، چې د جنسي

تیري د جرم اصلي عنصر دي، او یواځې په دې تېنګار کوي چې زنا هغه جنسي عمل دی چې د ازدواج د چوکاټ څخه د باندې تر سره کېږي. په زناء کې دواړه خواوې مجرمان ګڼل کېږي . که چېرې اجبار ثابت شو نو بیا قرباني له جرمي مسئولیتونو څخه مبراء ګڼل کېږي. دا معلومه نه ده چې د اجباري او با رضایته زناء ترمنځ د افغانستان په محکمو کې څرنګه توپیر کېږي.

سر بېره پردې چې د افغانستان قضاء هم په فساد کې ککړ ده او هم استقلال نه لري. ښځې له ټولنیزې بدنامۍ او پیغور سره مخامخ دي او په محکمه کې د عدالت په پلټنه کې د ارتباطاتو او اړیکو له لحاظه د نارینه و و سره یې انډول نه شي کېدلای. په افغانستان کې رسمي عدالت ته لاسرسی هم له محدودیتونو ډک دی او د افغانستان د قضایی قوې خپلواکي د اجبار او فساد له امله متاثره کېږي.

د نوموړو دلایلو له وجې اکثره خلک په دودی سیستمونو او د شخړو د هوارولو د شورا او جرګې خصوصي میکانیزمونو ته مخه کوي، چې پایله یې اکثره داسې ده چې د قرباني او جنسي تیري کوونکې ترمنځ واده کېږي، چې له امله یې ښځې ته ډېر ناوړې پایلې ورپه برخه کېږي چې کیدلای شی د هغو له جملې خخه کورني تاوتریخوالی ه رامنځته شي. د جنسي تیرئ پیښو ته د رسیدنې لپار نور اقدامات د پښتونولۍ په معیارونو کې نغښتي دي. چې د دواړو خواو وژل، یا د قرباني کورنۍ ته د غرامت په ډول نورې نجونې په واده کې ورکول ( دبد بدله) هم رانغاړي. خو په اکثره داسې پرېکړو کې ښځه هیڅ ډول رول نه لري چې په پایله کې ورته نوري بدبختیاوی لکه د عزت لپاره وژنه یا تبعید نصیب کېږي.

افغاني ټولنه په پراخه پیمانه د جنسي تیریو د قربانیانو په اړه د ټولنیز او فرهنګي باورونو له امله سترګې پټوي، چې د یو مناسب حقوقي چوګاټ، او مناسب غبرګون او جبران خسارت میکانیزم، نه شتون هم ورسره ملګری دی. د حکومت له خوا نه غوښتل او دارادې نشتوالی چې په دې موضوع ګانو باندې کار وکړي او د ښځو د حقونو لپاره عمومي پوهاوی رامنځته کړي، د مجازات څخه د خلاصون موجوده فضا ء لا ستونزې زیاتوي.

**نتیجه ګیري او سپارښتنې**

افغاني ښځو او نجونو د بن د موافقتنامي د لاسلیک کېدنې (دسامبر ۲۰۰۱) راهیسي له راز راز رامنځته شویو بدلونونو څخه ګټه پورته کړې ده. مثبت بدلونونه په لاندې ډول دي:

د دولت له خوا د بی شمیرو اقداماتو په لار اچول چې له امله یې ښه حکومتداري، بی وزلي کمول، او هغو غلطو کړو وړو ته رسیدنه ده چې له امله یې افغاني ښځه تل د مریتوب په حالت او د هیواد د

دوهمي کچي هيوادوال په حيث ژوند تيراوه، چي په وروستی نړيوال د جنډر ( جنسيت ) په انډيکس کي انعکاس شوی دی.
دا هم څرګنده ده چي وسله واله شخړې، بې امني، جرم او جنايت، بې قانوني د زياتېدو په حال کي دي، او همدارنګه د تاوتريخوالی کچه دومره لوړيږي چي ورسره د افغانانو ژوند که ښځه ده او که نارينه او يا هم ماشومان د خطر سره مخامخ کيږي. په دې اړه افغانستان داسي تجربې غبرګوي چي په نورو ځايونو کي هم تر سره شوې دي. چي دا موضوع ثابتوي "چي دلته يوه نړيواله متقابله رابطه د ناامني او د ښځو په مقابل کي د تاوتريخوالی ترمنځ موجوده ده"1.

تاوتريخوالی پرته له دې چي سيستماتيک وي لکه د فرهنګي، ټولنيزو او نور داسي نورمونو پر بنسټ، چي له امله يې ښځو ته دوهم رول ورکوي او د هغوي په مقابل کي زورزياتی کيږي، او يا داسي حالت وی چي د ښځي فيزيکی صحت او سلامتيا تر ګواښ لاندې راولي، د اد بې شميره افغاني ښځو او نجونو په ژوند کي يو مهم فاکتور دي.

د هغه تاوتريخوالی ماهيت چي افغاني ښځه يې ګالي کوم چي د وګړو ژوند متضرر کوي او يا د هغوی کورنۍ او ټولنه زيانمنه کوي په دې سند کي درج شوي دي. هغه تاوتريخوالو چي د هېوا په لر او بر کي صورت نيسي د شکلونو په لحاظ ورته والي او توپيرونه په کي موجود دي خو هغه څه چي ثابت دی دا دی چي د ښځو او نجونو سره د عادي افرادو په حيث معامله نه کيږي چي دا د هغوي د فطري بشري حقونو غوښتنه ده.

تجربې دا هم ښودلې ده چي دلته په پراخه پيمانه د هغه تاوتريخوالې سره چي ښځه يې بايد وګالي، زغم موجود دی. د جرم، خشونت، او بی عدالتی په نظر کي نيولو سره او همدارنګه د مجرم د کرکتر په نظر کي نيولو سره د افغانی کورنيو، ټولنو او د شخړو د هوارولو د روايتي ميکانيزمونو همدارنګه د دولتی موسساتو په منځ کي داسي تمايل موجود دی چي قرباني ته سزا ورکوله شي او د هغوی لپاره د جبران خسارت حق ته په ټيټه سترګه کتل کيږي. هغه تاوتريخوالي چي د ښځو په مقابل کي کيږي يو لامل يې هم دادی چي هغه کسان چي واک لري يا د تصميمونو د نيولو واک ورسره دی دا ليوالتيا نه لري چي په دې اعتراف وکړي چي د ښځو حقونه د نارينه و د حقونو سره مساوي دي.

[1] وارد، جين او ميندی مارش (۲۰۰۶)،په جګړه کی د ښځو او نجونو پر ضد جنسی تيری او د هغه عوامل، حقايق، غبرګون او ضروری منابع .UNFPA

هغه څېړنه چې د یوناما لخوا تر سره شوې ده  او  همدارنګه د مطالعاتو یوه غټه مجموعه چې د ښځو په مقابل کې او په عمومي توګه د ټولنې په مقابل کې د تبعیض او د هغه اثرونه بربنډوي، په واضحه توګه یو لړ عوامل په ګوته کوي . په دې کې په ځانګړي ډول  فرهنګی نورمونه، او روایتي چلندونه  چې  هغه زیان راوړونکي  دي او په ځینو مواردو کې د ښځو لپاره مرګوني دي. که څه هم ځینې چلندونه  لکه په بدو کې  ورکول د اسلام نه مخکې موجود و، خو له مذهب څخه اکثره داسې استفادې کېږي چې دغسې دودونه لا پیاوړی کوي چې له اسلامی درک سره تړاو نه لري. همدا راز د سخت دریځو سیاسي مشرانو او دیني عالمانو څخه جوړ یو نامقدسه ټلوالی، د اسلام تر نامه لاندې داسې اجنډاوې تعقیبوي چې د هغو واکداری او نفوذ خوندي کړي، او له هغو اقداماتو د طرح کولو څخه  چې د ښځو په مقابل کې تبعیضونه له منځه وړي  مخنیوي کوي.

د افغانستان معاصر  تاریخ د دی ښکارندویی کوی چی دښځو نقش او وضیعت د مخالفو ډلو او ټاکلو ګټو د نفوذ او صلاحیت د چیلنج کولو او پیاوړی کولو په موخه د یوی دایمی، مناسبی او مصلحت لرونکی مسلی په حیث شمیرل کیږی.  پدی پروسه کی، د ښځو حقونه د سیاسی  ملاتړ یا د څو ډلو د دوامداره بدلونونو د بدلون په موخه معامله کیږی. ددی په نتیجه کی، د تاریخ د مسیر  په شا تمبول پدی مانا دی چی د ښځو د حقونو درک او تحقق په آسانه سره په ځنډ بوزی.

روستنی تاریخ دا هم ښودلی چی هغو فعالینو او نورو کسانو چی د حکومت په دننه یا د باندی کې حضور درلود او د تبعیض په وړاندی یی مخالفت کاوه په دوامداره توګه په یو ترینګلی او بهانده چاپیریال کی د ډلو د تغیر وړ ماهیت په نظرکی نیولو سره فعالیت ترسره کړی. د دی په نتیجه کی، هغه کسان چی د ښځو د حقونو د تحقق لپاره کار کوی او د عامه خبرواترو د ساتلو په برخه کی ستونزی لری، دا به د افغانستان حکومت، عامه اداری، مدنی ټولنی فعالین، بشری حقونو موسسی او د نړیوالی ټولنی شریکان دی ته وهڅوی څواعلان شوی ژمنی ترسره کړی او د ښځود حقونو د ودی مسلی ته درناوی وکړی.

د ښځو د حقونو د خبرو اترو د پیل او پای ماهیت په هغو لمړیتوبونو چی د ښځو او نجونو د تحقق او د هغوی د بشپړ پوتانشیل لپاره رامینځته شوی چټکی اغیزی لری. کله چی د ښځو په وړاندی تبعیض د اشخاصو، نهادنو، یا موسساتو لخوا چی د واک صلاحیت ولری تصدیق شی د ښځو په وړاندی خشونت په موثره توګه له سترګو غورځول کیږی.

لکه د دی موندنی د یوی نه اجتناب وړ پایلی په حیث چی پدی راپور کی توضیح شوی، ترڅو او تر هغه چی د افغانستان حکومت او د هغه نړیوال ملاتړ کوونکی شریکبانی په کلکه دا ونه ښیی چی د ښځو په وړاندی خشونت د نه منلو وړدی، د ښځو په وړاندی ناوړه عمل او بریدونه به دوام مومی.

هغه پایله د نه انکار وړ ده څو د هیواد د ښځو او نجونو په وړاندی د خشونت پراخه پیژندل شوی ستونزه له مینځه یوړل شی. چپ پاتی کیدل د کوچنی نجلی د جنسی تیری په جرم کی د برخی اخستلو په معنی دی، ځوک چی وروسته بیا تیری کوونکی ته د واده په نوم ورکوله کیږی چی د قربانی شوي نجلی د نارینه کسانو د وقار د ساتلو په خاطر د معاملی د هوارولو په هدف ورکول کیږی. چپ پاتی کیدل د تبعیض لرونکو پالیسی ګانو څخه د ملاتړ او د ښځو په وړاندی د خشونت په اړه د سترګی پټولو په معنی ده. چپ پاتی کیدل د ښځو د تبعید کولو څوک چی د خپلو حقونو د پراختیا لپاره په افغانی ټولنه او د هغوی په ټولنو کی د هغوی د فعالو ونډی پخاطر خطرونو ته غاړه ږدی، معنی لری.

**وړاندیزونه**

هغه لاسته راوړنې او پایلې چې په دغه راپور کې ځای شوی یو شمیر عمومي وړاندیزونو ته چې د بیلا بیلو شریکبانو او په خاص ډول د افغانستان د حکومت لپاره چې د ښځو د حقونو د ترسره کولو د درناوي او ساتنی دنده لري د مرستې کولو په موخه تیار شوی دی.

په دغه هلو ځلو کې باید ښځو او همدارنګه د افغان او نړیوالې مدني ټولنې د سازمانونو سره سلا مشورې ترسره شي څو د هغوي د ستونزو لپاره چې په دغه راپور کې څرګندی شوي د ځواب ویلو په موخه مناسبې لارې چارې ولټوي. نړیواله ټولنه باید د دغو هڅو د ځوابولو په برخه کې د افغانستان د حکومت سره مرستې ترسره کړي او همدارنګه خپلې ژمنې پلې کړي څو د بشري حقونو د لومړیتوب په حیث د افغانستان د حکومت سره مرسته وکړي.
د لومړیتوب د یوې موضوع په حیث، د افغانستان حکومت باید دا لاندې ټکي ترسره کړي:

- د ډله ییزه رسینو او ښووني او روزنې د نصاب په شمول چې موخه یې په ټولنه کې په خاص ډول د مذهبي او ټولنې د مشرانو په منځ کې د ښځو د حقونو، د جنسیت پر اساس د تبعیض او د ښځو په وړاندې د خشونت په اړه د پوهاوي لوړول او د پروګرامونو او کمپاینونو طرح او پلې کول دي.

- د قوانینو او پالیسی اصلاح څو وکولای شي پدی هکله ډاډ حاصل شي چې دښځو او نارینه وو په وړاندې په مساوي توګه ساتنه وشي او همدارنګه جنسي تیری ته د جزا د قانون لاندې د یوه جدي تیری په سترګه وکتل شی او لازم تدبیرونه اتخاذ شي څو د جرګو او شوراګانو مخه ونیسي کوم چې د جنسي تیری د جنایت د ځواب ویلو په برخه کې د شخړې د عنعنوي حل لارو د میتودونو څخه کار اخلي کوم چې د ښځو حقونو ته درناوی نه کوي.

- دا ډاډه شی چی د ښځو پر ضد د تیری ختمولو د قانون مسوده په څرګند ډول جنسی تیری جنایت و ګڼی د جنسی تیری یو واضح تعریف چه د بین المللی معیارونو سره به مطا بقت کی وی درلودونکی وی. د عزت د وژنی پر ضد یو قوی دریځ غوره کړی اومیکانیزمونه سره یو ځای کړی چه حکومتی چارواکی د جنسی خشونت د چاره کولو لپاره مسؤول وګڼی

- د ښځو په وړاندې د خشونت د ځوابولو په موخه په خاص ډول د جنسي تیری په اړه د قانون د پلي کوونکو او قضایي موسساتو د ظرفیت پیاوړی کول او هم په موثره او مسلکي توګه چې په هیڅ وجه د قربانیانو امنیت او خوندیتوب په خطر کې وا نه چوي، په دې کې باید د قانون د پلي کوونکو او قضایي کارکوونکو لپاره د ښځو د حقونو په باره کې پراخي روزني شاملې وي او همدارنګه ښځنیه کارکوونکي استخدام او وروزي.

- مسول چارواکي څوک چې د جنسي خشونت د مرتکبینو د قانوني تعقیب او مناسبې څیړنې په پروسه کې پاتې راځي، باید مسوول وګڼل شي.

- د رواني- ټولنیز او طبی عامه ادارو او همدارنګه د مرستندویه حقوقي پروګرامونو چې موخه یې قربانیانو ته د چاره ای چټکو او مناسبو حقونو رامنځ ته کول دي، پیاوړی شي.

- باید ډاډ حاصل شي چې امنیتي ځواکونه په مناسبه توګه تمویل او په عامه ژوند کې د ښځو لپاره د ساتنې د برابرولو په چارو کې په خاص ډول د هغو ښځو لپاره چې ټاکل شوي چارواکي او یا د لوړ خطر په معرض کې واقع دي ژمن واوسي، په دې پروسه کې باید د ګواښ، روزني، تهدید، بریدونه او د ښځې د وژنې په برخه کی مناسبې څیړنې او قانوني تعقیب شامل وي.

- د ښو معلوماتو د ترلاسه کولو، د شکایتونو د معلومولو او د ښځو په وړاندې د خشونت د جرمونو د ارزونې په موخه د افغاني موسساتو د ظرفیت د نظارت پیاوړي کول.

- د جنډر د اوسني نه تعادل او همغږي د خسارې د جبران په موخه د قانون د مثبتو عملونو او پالیسیو اتخاذ او پلې کول.

- داډ حاصل شي چې ښځې په خاص ډول هغه ښځینه ټاکل شوي استازی چې په ښځو او ټولنې باندې اغیزې اچوي د سولې او پخلاینې په نوښتونو کې د پریکړو نیولو د پروسې یوه برخه وګرځیږي.

تر CEDAW لاندی باید بی له ځنده اولنی دولتی راپور وړاندی کړی او د هغه د شریکانو سره د معقولو وړاندیزونو چی د می 2009 کال کی د افغانستان د نړیوال دوره یی بیا کتنی په نتیجه کی رامنځ شوی د عملی کولو لپاره کار وکړی.